# د محبّت بنار

6-June-2024



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پهٔ 6 جون کال 2024ء (بمطابق 28 ذوالقعدة الحرام، 1445ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو
اجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# د محبّت ښار

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ___ آیا مدینه منوَّره د عرش نه هم افضل ده؟
- ___پهٔ تورات شریف کښې د مدینے ذِکر
- ___ د فرښتو د مدینے سره محبّت
- ___ د مدینے غم او د مدینے درد به څنګ نصیب کېږي؟

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن

اَمَّا بَعۡدُ! فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

**نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ** (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت اَبُو فَضل قُومَسَاني رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه ډير لوئي عاشقِ رسول او نيک انسان وو، يو ځل د خراسان يو عاشقِ رسول هغوئي له راغلو او اوئې وئيل: **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه!** زۀ پۀ مسجدِ نبوي شريف کښې اوده ووم چې پۀ ما باندې کرم وشو، عَرش ته تلونکي نبي، د جنّتونو سيل کوونکي نبي، د رَبّ محبوب نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما پۀ خوب کښې تشريف راوړلو- د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکو شونډو حرکت وکړو او د رحمت ګلونه راودوريدل، خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: چې کله تۀ هَمَدان (ښار) ته لاړ شې نو اَبُو فَضل قُومَسَاني ته زما سلام ووايه- ما عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! پۀ هغوئي باندې د دې کَرم څۀ وجه ده؟ اوئې فرمائيل: هغۀ پۀ ما باندې روزانه 100 کَرَته درود پاک لولي-

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د هغه اوچتې مرتبې لرونکي چې نُورِ خُدا، امامُ الانبياء، محبوبِ خُدا صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرې سلام راليږي-

پیام لے کے جو آئی صبا مدینے سے
ملے ہمارے بھی دِل کو جِلا مدینے سے

مریضِ عشق کی لائی دوا مدینے سے
کہ مہر وماہ نے پائی ضیا مدینے سے

**وضاحت**: يعنې اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! چې سپوږمۍ او نـمر ته کومه رڼا حاصله شوې ده نو هم د مدينے نه حاصله شوې ده---!! کاش چې زمونږ د غريبانانو د زړونو هم ژوند نصيب شي-

خير! دې خُراساني عاشقِ رسول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيغام هَمَدان (ښار) ته راوړلو، حضرت اَبُو فَضل قُومَسَاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته يـې د آقا **سلام** راورسولو، بيا يـې پوښتنه وکړه: جناب عالي! تاسو کوم يو درودِ پاک لولئ، ما ته يـې هم وښايئ! په دې باندې حضرت اَبُو فَضل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ووفرمائيل: زۀ روزانه 100 کَرَته دا درودِ پاک لولم:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الۡاُمِّيِّ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ جَزَى اللّٰهُ مُحَمَّدًا عَنَّا مَاهُوَ اَهۡلُهٗ [1]

| | |
|---|---|
| اس جوابِ سلام کے صدقے ! | تا قیامت ہوں بے شمار سلام |
| میری بگڑی بنانے والے پر | بھیج اے کردگار سلام |
| اس پناہِ گنہگاراں پر | یہ سلام اور کروڑ بار سلام [2] |

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: **اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّيَّات** د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے- [3]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ✿ د الله پاک د رضا د پاره

---

1...تاریخ الاسلام للذہبی، جلد:10، صفحہ:257، رقم:17516۔

2...ذوقِ نعت، صفحہ:170، 171 ملتقطاً۔

3...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

به ټول بيان اورم ❀ په اَدب به کښېنم ❀ ښۀ په توجُّه به بيان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آيا مدينه منوَّره د عرش نه هم افضل ده---؟

حضور عزالئ زمان (يعنې د خپل وخت لکه امامِ غزالي) حضرت علّامه کاظمي شاه صاحب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه --- د چا مبارک مزار چې په ملتان کښې دے--- هغوئي ډير لوئي عاشقِ رسول، ډير لوئي عالِمِ دِين وو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! ډير ذهين او دانا وو، اِستِدلَال به يې ډير په کمال سره کولو (يعنې که په يوه مسئله باندې به څۀ دليل ورکول وو نو داسې زبردست او نا اشنا دليل به يې ورکولو چې اوريدونکے به حيران پاتې کيدلو)- يو ځل هغوئي په مدينه طيبه کښې، په مسجدِ نبوي شريف کښې حاضر وو-

چې مسجدِ نبوي وي، روضۀ رَسُول مخامخ وي، هُغه وخت خو د عاشقانو حالات هم څۀ بدل شان وي--- اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي:

اے شوقِ دِل! یہ سجدہ گر اُن کو رَوَا نہیں | اچھا! وہ سجدہ کیجے کہ سَر کو خبر نہ ہو(4)

**وضاحت:** يعنې چې کله روضې ته مخامخ شوم، زړۀ خوشحاله وو، د شوق نه ډک وو، ارمان خو دا دے چې دلته د تعظيم د پاره سجده وکړے شي خو د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شريعت کښې د الله پاک نه علاوه بَل چا ته د تعظيم سجده حرامه ده، اوس به څۀ کوې؟ اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مينځنۍ لاره راويستله--- فرمائي: اے د زړۀ شوقه! دا سجده يعنې تندے په زمکه کيښودل او سجده کول، دا که

---

4...حدائقِ بخشش، صفحہ:131۔

د حُضُور صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د پاره جائز نه ده نو ټيک ده، دا سجده مۀ کوه! پۀ داسې انداز کښې سجده وکړه چې سر هډو خبر نه شي---!!

اُن کے در پر پہنچے تو پائیں، یہ نہ پوچھو کہ کیا ہم کریں گے
سَر جھکانا اگر جُرم ہو گا، ہم نگاہوں سے سجدہ کریں گے

ډاکټر اقبال وائي:

سَجُود نیست اِے عبدُ العزیز! اِیں | بَرویَم اَز خِرا خَاکِ دَرِ دَوست (5)

مفهوم: اے عبد العزیزه---!! دا سجده نه ده، زۀ خو پۀ بڼو باندې د محبوب دَر جارو کووم-

د عاشقِ مدينه سيدي اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دامت برکاتہم العالیہ ذوق ته هم وګورئ! ليکي:

میں پہنچوں کوئے جاناں میں گریباں چاک، سینہ چاک
گرا دے کاش! مجھ کو شوق تڑپا کر مدینے میں (6)

خير! دا د عاشقانو حالات وي، چې کله هغوئي د رسول الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم روضې مبارکې ته مخامخ شي ❀ زړۀ يې د خوشحالۍ نه پۀ هوا شي ❀ زړۀ يې بې واره درزيږي ❀ د سترګو نه يې اوښکې بهيږي، هغه وخت عاشقان هر څيز هير کړي او صرف د حُضُور جانِ کائنات، محبوبِ کائنات صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم پۀ لور متوجه وي-

میرا وُجود جیسے گم ہو کے رہ گیا ہے | خود سے بچھڑ گیا ہوں، دربارِ مصطفےٰ میں

خير! ما عرض کولو چې عظيم عاشقِ رسول حضرت علّامه احمد سعيد کاظمي شاه صاحب رحمۃ اللہ علیہ هم داسې د عشق نه پۀ ډک حالت کښې د محبوب صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

---

5...کلیاتِ اقبال فارسی، اَرمغانِ حجاز، صفحہ:805۔

6...حدائقِ بخشش، صفحہ:280۔

روضې ته مخامخ ولاړ وو، سترګې يې پټې وې، شونډې يې خوزيدلې، پهٔ ورو اواز کښې يې د خپل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ حضور کښې پته نه لګي چې څهٔ درخواستونه کول چې ناڅاپه يو بے اَدبه راغلو او د عاشق د عشق نه پهٔ ډکه حاضرۍ کښې خنډ [يعنې رکاوټ] جوړ شو او اوئې وئيل: حاجي! کعبې ته مهٔ شا کوه! څهٔ خواست چې کوې نو کعبې ته مخ کړه او د روضې پهٔ لور شاه کړه او اوئې کړه--- د دربارِ رسالت حاضري وه، هُغه وخت بَل يو اړخ ته توجه صحيح نه وه، لهٰذا حضور غزالئ زمان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د هغهٔ خبره داسې وګڼله چې هډو اوريدلې يې نه وي او پهٔ درخواستونو کښې مصروف شو- هُغه کوم بے اَدبه چې وو، هغهٔ د هغوئې حُليه مبارکه پهٔ خپل ذهن کښې محفوظ کړه، نو پهٔ بَله ورځ حضرت علّامه احمد سعيد کاظمي شاه صاحب رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د ۂغه ځائے يو لوئي عهديدار له بوتلے شول-- پهٔ دې مُقدس جُرم کښې چې دا بنده د روضې پهٔ لور مخ کوي او درخواستونه کوي- هغوئې د ۂغه لوئي عهديدار خوا له لاړل، هغهٔ وړومبۍ پوښتنه هم دا وکړه: **آيا تهٔ د رسول** [صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] **قبر د کعبې نه افضل ګڼې---؟** بيا د غزالئ زمان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه علمي کمال ته وګورئ! هغوئې ووفرمائيل: تهٔ د کعبې خبره کوې، زهٔ خو دا ځائے د عرش نه هم افضل ګڼم- ۂغه عهديدار ووئيل: پهٔ دې باندې دليل راکړه--!! هغوئې ووفرمائيل: بيا دليل واوره--!! د قرآنِ کريم نه ثابته ده چې د اللّٰه پاک نبي حضرت عيسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام شُکر ګزار بنده دے- بل خوا اللّٰه پاک فرمائي:

لَئِنۡ شَكَرۡتُمۡ لَاَزِيۡدَنَّكُمۡ

(پارہ:13، ابراہیم:7)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: که تاسو زما شکر ادا کوئ نو زه به تاسو ته نور زيات عطا کووم.

وګوره! يو خوا حضرت عيسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام دے څوک چې شُکر ګزار بنده دے، بل خوا د اللّٰه پاک دا وعده ده چې شُکر ګزار ته به د مخکښې نه زيات عطا کولے شي، بيا دا خبره خو ثابت ده چې حضرت عيسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام دا وخت پهٔ څلورم اسمان باندې تشريف

فرما دے، هغوئي شُکر ګزار دي، لهٰذا پکار دي چې هغوئي پۀ کوم ځائے باندې اوس دي، د شکر ګزارۍ لړ کښې د دې نه بهتر، د دې نه اعلیٰ، د دې نه افضل او اوچت مقام ته اورسولے شي- مونږ ته دا خبره معلومه ده، د روايتونو نه ثابت ده چې حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام به د څلورم اسمان نه زمکې ته تشريف راوړي، بيا به چې کله د دُنيا نه ظاهري پرده فرمائي نو د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوا کښې به مزار بياموي-

د دې نه دا ثابت شوه چې حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته چې د شکر ګزارۍ پۀ صِله کښې د مخکښې نه کوم اوچت او افضل ځائے عطا کيدل وو ❁ هغوئي خو به نۀ پينځم اسمان ته رسولے شي ❁ نۀ شپږم اسمان ته ❁ نۀ سِدرَةُ الْمُنتهیٰ ته ❁ نۀ عرشِ اعظم ته بلکې حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته چې به د هغوئي د اوسني ځائے نه کوم اوچت، افضل او اعلیٰ ځائے ورکولے شي، هغه زما د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د انوارو ډکه روضه ده- د دې نه دا معلومه شوه چې کوم عظمت، کوم اوچت والے د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مزار مبارک ته حاصل دے، هُغه مرتبه، هُغه اوچت والے عرش ته هم حاصل نه دے- د حضرت کاظمي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا نا اشنا دليل يـې چې واوريدو نو هُغه لوئي عهديدار ګوته پۀ خُله [يعنې ډير حيران او پريشان] پاتې شو- (7)

عرشِ عُلیٰ سے اعلیٰ، میٹھے نبی کا روضہ
ہے ہر مکاں سے بالا، میٹھے نبی کا روضہ

کیسا ہے پیارا پیارا یہ سبز سبز گنبد
کتنا ہے میٹھا میٹھا، میٹھے نبی کا روضہ

فِردوس کی بُلندی بھی چُھو سکے نہ اس کو
خلدِ بریں سے اُونچا، میٹھے نبی کا روضہ

مکّے سے اس لئے بھی اَفضل ہوا مدینہ
حصّے میں اس کے آیا، میٹھے نبی کا روضہ

---

7...مقالاتِ کاظمی، جلد:1، صفحہ:23 مفصلاً۔

کعبے کی عظمتوں کا منکر نہیں ہوں لیکن | کعبے کا بھی ہے کعبہ، میٹھے نبی کا روضہ (8)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# مکه مکرمه افضل ده که مدینه منوَّره---؟

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** مدینه منوَّره افضل ترین ښار دے او ولې به نه وي چې دا د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښار دے، دلته محبوبِ خُدا، آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف فرما دے-

مدینہ اس لئے عطّار جان و دِل سے پیارا | کہ رہتے ہیں مرے آقا، مرے دِلبر مدینے میں (9)

**دلته یو وضاحت کووم:** مکّه مکرمه افضل ده که مدینه منوَّره---؟ پهٔ دې باره کښې علمائے کرامو ډیر علمي بحثونه لیکلي دي، پهٔ آخره کښې یـې د دې عِلمي بحثونو نتیجه دا راویستې ده چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تُربت مبارک **یعنې د زمکې هٔغه حصه کومه چې د رسول الله** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د بدن مبارک سره لګیدلې ده، هٔغه د زمکې حصه د کعبې شریفې بلکې د عرشِ اعظم نه هم افضل ده-** د مزار مبارک نه بره حصه پهٔ دې کښې شامله نه ده- بیا خاص هٔغه ځائے چرته چې کعبه شریفه ده، هغه د تُربت مبارک نه علاوه د مدینے د ټول ښار نه افضل ده- د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تُربت او د کعبې شریفې نه علاوه د مدینے د ښار او د مکے د ښار چې باقي پاتې کومه حصه ده، پهٔ دې دواړو کښې کومه یوه افضل ده، پهٔ دې باره کښې د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مسلک

---

8...وسائلِ بخشش، صفحہ:320۔

9...وسائلِ بخشش، صفحہ:283۔

دا دے چې مدينه افضل ده۔ [10] بلکې په حديثِ پاک کښې ارشاد دے: اَلْمَدِیْنَۃُ اَفْضَلُ مِنْ مَکَّۃَ مدينه د مکے نه افضل ده۔ [11]

کیوں کر نہ ہو مکّے سے سِوا شانِ مدینہ
وہ جبکہ ہو مسکنِ سلطانِ مدینہ
مکّے کو شرف ہے تو مدینے کے سبب سے
اس واسطے مکہ بھی ہے قربانِ مدینہ
آتے ہیں سرِ عجز جھکائے ہوئے لاکھوں
شاہانِ جہاں پیشِ گدایانِ مدینہ
مرنے پہ بھی چھوڑیں گے نہ محبوب کا کوچہ
عشّاق کی جنّت ہے بیابانِ مدینہ
ہے عرض جمیلِ رضوی کا یہ خُلاصہ
لاشہ ہو مرا اور بیابانِ مدینہ [12]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مدينه منوَّره محبوب ښار دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مدينے منورې فضائل بے شميره دي، په دې کښې يو فضيلت دا هم دے چې مدينه منوَّره د محبّت ښار دے۔ د دې پاک ښار د 100 نه زيات نومونه دي، په هغې کښې درې نومونه دا دي: (1): مَحْبُوبَه (2): مُحَبَّه (3): مُحَبَّبَه۔ د دې دريو واړو نومونو معانې تقريباً يو شان دي۔ مطلب دا دے چې مدينه منوَّره محبوب ښار دے، ښکلے ښار دے، دا عظيمُ الشان ښار د محبّت ښار دے۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! مدينه طيبه هُغه مقدس ښار دے، د کوم سره چې الله پاک هم محبّت فرمائي، د هغهٔ رسولان ورسره هم محبّت فرمائي، خاص طور آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو ورسره ډير محبّت کوي، د الله پاک فرښتے هم د مدينے منورې سره

---

10...فتاویٰ رضویہ، جلد:10، صفحہ:711۔

11...فضائل المدینۃ للجندی، صفحہ:23، حدیث:12۔

12...قبالۂ بخشش، صفحہ:230، 232 ملتقطاً۔

محبّت فرمائي او د الله پاک پۀ فضل سره، د هغۀ پۀ عطا سره د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم نه واخله تر اوسه پورې عاشقانِ رسول هم د مدينے منورې سره محبّت کوي، د مدينے منورې پۀ حاضرۍ پسې هم نا قلاره وي او وخت پۀ وخت د مدينے منورې ذِکر کوي او رُوح ته سکون هم رسوي۔

مدینہ، مدینہ، ہمارا مدینہ
ہمیں جان و دِل سے ہے پیارا مدینہ

سُہانا، سُہانا دِل آرا مدینہ
دِوانوں کی آنکھوں کا تارا مدینہ

یہ ہر عاشِقِ مصطفٰے کہہ رہا ہے
ہمیں تو ہے جنّت سے پیارا مدینہ

مدینے کے جلووں کے قربان جاؤں
خُدا نے ہے کیسا سَنْوارا مدینہ

خُدا گر قیامت میں فرمائے مانگو...!!
پُکاریں گے دِیوانے پیارا مدینہ

ضیا پیر و مرشد کے صدقے میں آقا
یہ عطّار آئے دوبارہ مدینہ (13)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د الله پاک د مدينے منورې سره محبّت

د امام حاکِم نيشاپوري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه روايت دے چې کله مَدَني آقا، مکي داتا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هجرت اراده ووفرمائيله نو د الله پاک پۀ بارګاه کښې يې دعا وکړه: اَللّٰھُمَّ اِنَّکَ اِنۡ اَخۡرَجۡتَنِیۡ مِنۡ اَحَبِّ الۡبِلَادِ اِلَیَّ فَاَسۡکِنِّیۡ فِیۡ اَحَبِّ الۡبِلَادِ اِلَیۡکَ يعنې الٰهی! تا ما ته زما د محبوب ښار (يعنې مکے) نه د هجرت کولو حکم کړے دے، اوس زما قيام پۀ داسې ځائے کښې ووفرمايه کوم چې ستا پۀ نزد محبوب ترين وي۔ (14)

---

13...وسائلِ بخشش، صفحہ:355۔

14... مستدرک، کتاب ہجرۃ، جلد:3، صفحہ:535، حدیث:4320 بتغیر قلیل۔

د دې دُعا نه پس الله پاک د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره د مدينے منورې انتخاب ووفرمائيلو، د دې نه دا معلومه شوه چې مدينه طيبه د الله پاک پۀ نزد محبوب ترين ځائے دے-

| | |
|---|---|
| شاہ تم نے مدینہ اپنایا | واہ! کیا بات ہے مدینے کی |
| اپنا روضہ اسی میں بنوایا | واہ! کیا بات ہے مدینے کی (15) |

## پۀ تَورَات شريف کښې د مدينے منورې ذِکر

حضرت کَعب الاَحبار رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خوک چې د تَورَات شريف هم عالِم وو، د قرآنِ مجيد هم عالِم وو، هغوئې فرمائي: تَورَات شريف (کوم چې پۀ حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام باندې نازل شو، پۀ دې) کښې الله پاک مدينه طيبه داسې مخاطب کړه: يَا طَيْبَةُ! يَا طَابَةُ! يَا مَسْكِيْنَةُ! لَا تَقْبَلِيْ الْكُنُوْزَ اِرْفَعِيْ اَجَاجِيْرَكَ عَلٰى اَجَاجِيْرِ الْقُرٰى اے طيبه! اے طَابه---!! (يعني اے پاکې زمکې!) اے مَسکِينه (يعني د سکون او قرار والا زمکې)! تۀ خزانے مۀ قبلوه---!! تۀ خپل شان او شوکت د نورو ښارونو د شان نه اوچت ساته---!! (16)

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے د مدينے منورې---!! غور وکړئ! الله کريم مدينه طيبه مخاطب کوله، د دې د پاره خو صرف يو ځل يَا طَيِّبه! وئيل هم کافي وو، الله پاک، پاک دے، رَبُّ العَالَمِين دے، هغۀ چې يو ځل هم خوک داسې مخاطب کړي، د هغه عظمتونه خلور نۀ بلکې 12 چنده اوچت شي خو قربان شم! دا مدينه منوَّره ده، دا د محبوب ښار دے، لکه څنګه چې د رَبِّ رحمان د خپل محبوب سره بے مثاله محبّت دے، هم داسې د محبوب ښار هم محبوب دے، ځکه چې کله يې د مدينے منورې پاکه زمکه مخاطب کوله نو صِرف يو

---

15...وسائل بخشش، صفحہ:388-

16...فتح الباری لابن حجر، کتاب فضائل المدینہ، باب المدینۃ طابۃ، زیر حدیث:1872، جلد:4، صفحہ:115-

ځل يې اونه فرمائيل بلکې د نوم بدلولو سره يې ووفرمائيل: يَاطَيِّبه!يَاطَابَه!يَامَسْكِينَه!
سُبْحٰنَ الله! چې زمونږه رَبِّ رحمان د مدينے منورې ذِکر داسې په محبّت سره کوي نو بيا عِبَادُ الله (يعنې د الله پاک بندګان) دې د مدينے منورې ذِکر ولې نه کوي؟

سب پُکارو! جھوم کر میٹھا مدینہ مرحبا!
کر کے خم سب اپنا سَر میٹھا مدینہ مرحبا!
ڈوبا رہتا ہے مدینہ روشنی میں ہر گھڑی
شام ہو یا ہو سحر میٹھا مدینہ مرحبا!
عظمتیں ہیں، رفعتیں ہیں، نعمتیں ہیں، برکتیں
رحمتیں ہیں ہر ڈگر میٹھا مدینہ مرحبا!
اس لئے تو ہم کو پیارا ہے مدینہ رہتے ہیں
اس میں شاہِ بحر و بَر میٹھا مدینہ مرحبا!
جو مدینے آگیا، عطّار آکر مر گیا
وہ بڑا ہے بختور میٹھا مدینہ مرحبا!(17)

## د غريبانانو، فقيرانو ايسارونکے ښار

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک چې په تورات شريف کښې مدينے منورې ته غږ وکړو نو اوئې فرمائيل: يامَسْكِيْنَةُ! يعنې اے د سکون او قرار والا زمکې-
سُبْحٰنَ الله! دا هم د مدينے منورې فضيلت دے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ مدينه طيبه هغه پاکه زمکه ده چرته چې سکون ميلاويږي ❁ قرار نصيب کيږي ❁ غمژن زړونه دلته د راتلو سره قرار بيامومي ❁ غم زپلي چې دلته راشي نو د غمونو نه قرار بيامومي ❁ آؤ! آؤ! هم دا مدينه منوَّره ده، لکه څنګه چې زمونږه خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هر بے يار او مددګار د پاره د پناه ځائے دے، هم داسې مدينه طيبه هم د هر غريب د پاره وطن دے-

مدینے کے خطّے، خُدا تجھ کو رکھے
غریبوں، فقیروں کے ٹھہرانے والے(18)

---

17...وسائلِ بخشش، صفحہ:152، 154 ملتقطاً-

وضاحت: اے د مدینے منورې پاکې خطے! الله پاک دې تا سلامته لري--!! هم تهٔ یـې چرته چې د غریبانانو او فقیرانو قرار نصیب کیږي-

## پهٔ قرآنِ کریم کښې د مدینے منورې ذِکر

اے د خوږ نبي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! مدینه طیبه د الله پاک محبوب ښار دے- رَبِّ کریم چې څنګه پهٔ مخکښینو آسماني کتابونو کښې د دې ذِکرِ خیر فرمائیلے دے، هم دغه شان یـې د ټولو نه پهٔ آخري آسماني کتاب قرآنِ مجید کښې هم پهٔ ډیرو ځایونو کښې د مدینے منورې ذِکر فرمائیلے دے ✿ د مدینے منورې مشهور نوم یعني مَدِینَه هم پهٔ قرآنِ کریم کښې څلور کرته راغلې ده ✿ د دې نه علاوه پهٔ 15 سیپاره، سورهٔ بني اسرائیل: آیت: 80 کښې د مدینے منورې د پاره لفظ مُدخَلُ صِدقٍ استعمال کړے شوے دے، یعني د داخلیدو د پاره ښه او رښتونے ځائے ✿ پهٔ 5 سیپاره، سورهٔ نِسَآء، آیت: 97 کښې مدینے منورې ته اَرضُ الله یعني د الله پاک زمکه ووفرمائیلے شوه- یعني زمکه خو هم ټوله د الله پاک ده، بلکې اووه واړه زمکې، اووه واړه اسمانونه هم رَبِّ رحمان پیدا کړي دي خو قِسمت د دې پاکې زمکې (یعني مدینے منورې) دے چې رَبِّ کریم دې ته پهٔ خاص طور باندې اَرضُ الله (یعني د الله زمکه) خطاب عطا کړے دے ✿ پهٔ 28 سیپاره، سورة الحَشر، آیت: 9 کښې د مدینے منورې دوه نومونه ذِکر شوي دي: (1): دارُالْهِجْرَة، او (2): دارُالْاِیْمان- ارشاد کیږي:

وَ الَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَ الْاِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ (پاره 28، سورة الحشر: 9)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: او هٔغه خلق چې د دوئي (مهاجرینو) نه مخکښې ئې دا ښار او ایمان خپل ځائے جوړ کړلو.

---

18... حدائقِ بخشش، صفحه: 158-

علّامه بیضاوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت يوه معني بيانوي او فرمائي: تَبَوَّؤُ الدَّارَ الْهِجْرَةَ وَدَارَ الْاِيْمَانِ يعنې هٔغه خلق کومو چې دارُ الهجرت او دارُ الاِيمان خپل کور جوړ کړو او د دې نه مُراد انصار صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم دي چې د هغوئي صِدق او رښتنولي ظاهره شوه، هغوئي د مخکښې نه پهٔ مدينه منوَّره کښې اوسيدل لازم کړل، ايمان يې راوړلو او پهٔ مدينه منوَّره کښې پهٔ اوسيدو او ايمان باندې ثابت قدم پاتې شول- علّامه بيضاوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: پهٔ دې آيت کښې الله پاک مدينے منورې ته ايمان (يا دارُ الاِيمان) ووفرمائيلو، د دې وجه دا ده چې ايمان هم د مدينے منورې نه خور شوے دے او بيا به هم دې طرف ته واپس راګرځي-[19] د مُعجَمِ اَوسط حديثِ پاک دے، زما خوږ نبي، آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَلْمَدِيْنَةُ دَارُ الْاِيْمَان مدينه د ايمان کور دے-[20]

ایمان ملاان کے صدقے، قرآن ملاان کے صدقے

رحمٰن ملاان کے صدقے، وہ کیاہے جو ہم نے پایا نہیں

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې د رَبِّ کريم د محبوب ښار يعنې د مدينے منورې سره څومره محبّت دے--!! ❀ اَوَّل خو الله پاک د خپل محبوب د قيام د پاره د مدينے منورې انتخاب ووفرمائيلو او د محبوب د قيام د پاره هميشه د ټولو نه د اعلیٰ ښار انتخاب کولے شي ❀ بيا د مدينے منورې دا عظمت دے چې الله پاک پهٔ مخکښينو آسماني کتابونو کښې هم د دې ذِکرِ خير فرمائيلے دے ❀ او پهٔ آخري کتاب قرآنِ کريم کښې يې هم داسې بے مثاله ذِکر ووفرمائيلو، چرته يې دې ښار ته اَرضُ الله ووئيلو، چرته يې دې ته دارُ الهِجرَت ووفرمائيلو، چرته يې ورته دارُ الاِيمان ووفرمائيلو او ووئيلے شول چې لکه

---

19 ... حاشیہ شیخ زادہ تفسیر بیضاوی، پارہ:28، الحشر، تحت الآیۃ:9، جلد:8، صفحہ:167۔

20 ... معجم اوسط، جلد:4، صفحہ:174، حدیث:5618۔

خنګه د الله پاک د آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره بے مثاله محبّت دے، هم داسې الله پاک د هغوئي د پاک ښار سره هم باکماله محبّت فرمائي۔

عجب پیاری پیاری ہے صُورت کسی کی
ہمیں کیا خُدا کو ہے اُلفت کسی کی
کسی کو کسی سے ہوئی ہے نہ ہوگی
خُدا کو ہے جتنی محبّت کسی کی
مدینہ کا جنگل ہو اور ہم ہوں زاہد...!!
نہیں چاہیے ہم کو جنّت کسی کی

وضاحت: اَللّٰهُ اَکْبَر! د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رخسار مبارک څومره ښکلے دے چې یواځې زمونږ نۀ بلکې د الله پاک هم د دې نوراني مخ سره ډیر اُلفت او محبّت دے، بلکې داسې ووايئ چې لکه څنګه محبّت د الله پاک د خپل حبیب سره دے داسې محبّت نۀ د چا د چا سره دے او نه به بیا وي، زمونږه داسې جنّت په کوم کښې چې د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ملګرتیا نه وي د هغې په مقابله کښې چې په کوم مقدس ښار کښې حبیبِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارام فرمائي، د هغې ځنګلونه هم قبول دي۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فرښتو د مدینے منورې سره محبّت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مدینه منوَّره د الله پاک هم محبوب ښار دے، د دې سره سره فرښتے هم د مدینے منورې سره محبّت کوي۔ ډیر مشهور روایت دے، حضرت کَعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: چې کله سحر کیږي نو 70 زره فرښتے مدینے منورې ته حاضریږي، د خوږ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روضه مبارکه په خپلو وَزَرو باندې پټوي او (څۀ کوي؟ اوئې فرمائيل): يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ، د خپل خوږ آقا و مولا، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې د

درودونو نذرانے وړاندې کوي-

حضرت كَعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: تر ماښامه پورې دا فرښتے دلته حاضرې وي، چې کله ماښام شي نو دا فرښتے لاړې شي او د دوئي پۀ ځائے نورې 70 زره [فرښتې] حاضرې شي، بيا د ماښام نه تر سحره پورې دا 70 زره فرښتے روضه مبارکه پۀ خپلو وَزَرو باندې پټوي او د درودونو نذرانے وړاندې کوي- دا سلسله به تر قيامته پورې هم داسې روانه وي- (21)

سَتَّر ہزار صبح ہیں، سَتَّر ہزار شام
یُوں بند گی زُلف و رُخ آٹھوں پہر کی ہے
جو ایک بار آئے دوبارہ نہ آئیں گے
رُخصت ہی بار گاہ سے بس اس قدر کی ہے (22)

**وضاحت:** هره ورځ 70 زره فرښتے سحر او 70 زره فرښتے ماښام يعنې يو لاکه خلويښت زره فرښتے هره ورځ پۀ بارګاهِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې حاضري کوي، د درودِ پاک نذرانے وړاندې کوي او د جانِ کائنات، فخرِ موجودات صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زُلفو مبارکو او د وَالضُّحیٰ مخ تعريف او ثنا کوي، بيا دا هم ده چې کومه فرښته يو ځل حاضره شي، بيا تر قيامته پورې به د هغۀ حاضري نه نصيب کيږي ځکه چې د الله پاک د بارګاه نه بس هم دومره اجازت دے، که داسې نه وے نو پۀ کروړونو فرښتے به د حاضرئ نه محرومه پاتې کيدلې-

## د جبريل عَلَيْهِ السَّلَام محبوب ښار

امامِ عشق او محبّت، اعلیٰ حضرت، شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه پۀ ځانګړي

---

21... سنن دارمی، مقدمہ، باب ما اکرم اللہ... الخ، صفحہ:59، حدیث:95۔

22... حدائق بخشش، صفحہ:220۔

انداز کښې د مدينے منورې شان بيان کړے دے، هغوئي ليکي:

چمنِ طیبہ ہے وہ باغ کہ مرغِ سِدْرہ | برسوں چہکے ہیں جہاں بلبل شیدا ہو کر (23)

يعنې **مدينه منوَّره** هغه چمن، هغه باغ دے چرته چې به حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام ټول کال داسې حاضريدلو لکه څنګه چې بلبل په عشق کښې د ګل خوا له ځي او چغيږي- منقول دي چې حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام په 23 کالو کښې 24 زره کرته په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضر شوے دے، (24) په دې کښې 10 کاله د **مدينے منورې** د حاضرۍ دي- يعنې که اوسط راويستے شي نو که روزانه کم او زيات درې کرته حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام حاضر شي، نو بيا هم په 23 کالو کښې 24 زره حاضريانې جوړيږي خو بعضې وخت به حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام د دريو نه کم ځل حاضريدلو، کله به پکښې رانغلو او کله به د دريو ځلو نه زيات حاضر شو-

بے لقائے یار اُن کو چین آ جاتا اگر | بار بار آتے نہ یُوں جبریل سِدرہ چھوڑ کر (25)

**وضاحت:** د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د ملاقات کولو نه بغير که د حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام سکون او قرار نصيب کيدلو نو هغوئي به چرې هم بيا بيا د سِدره پريښودو سره بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته نه حاضريدل-

سُبۡحٰنَ الله! **اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** دا ده زمونږه **مدينه منوَّره---!!** چرته چې فرښتے حاضري کوي، چرته چې د فرښتو سردار حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام

---

23... حدائقِ بخشش، صفحہ:70۔

24... مواہب اللدنیہ، دقائق حقائق بعثتہ، جلد:1، صفحہ:112 بتصرف۔

25... ذوقِ نعت، صفحہ:133۔

بیا بیا حاضري کوي نو مونږ د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم غلامان، د خپل کریم داتا صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم سوالګیري به هلته د حاضرۍ د پاره ولې نه نا قلاره کیږو؟ مونږ به د مدینے منورې سره ولې محبّت نه کوو--!! **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** مدینه منوَّره د الله پاک هم محبوب ښار دے، د فرښتو هم محبوب ښار دے، زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم هم محبوب ښار دے، د صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام هم محبوب ښار دے، د اولیائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ هم محبوب ښار دے، د علمائے کرامو هم محبوب ښار دے بلکې د هر عاشقِ رسول زړهٔ د مدینے منورې د پاره نا قلاره وي، مدینه منوَّره د محبّت ښار دے، هر ربښتونے عاشقِ رسول، هر ربښتونے مسلمان د دې ښار سره محبّت کوي۔

وہ شہرِ محبّت جہاں مصطفٰے ہیں، وہیں گھر بنانے کو جی چاہتا ہے
وہ سونے سے کنکر، وہ چاندی سی مٹی، نظر میں بسانے کو جی چاہتا ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عُلَمائے اهلِسُنَّت د مدینے منورې سره محبّت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** مدینه منوَّره محبوب ښار دے، د 1400 کالو نه زیاته موده تیره شوه، د هغه وخت نه تر اوسه پورې د الله پاک فضل دے، د هر عاشقِ رسول زړهٔ د مدینے منورې د پاره نا قلاره وي۔ د الله پاک نیکانو بندګانو، عاشقِ رسول عُلَمائے کرامو به پهٔ کوم کوم ځانګړي انداز کښې د مدینے منورې اَدَب کولو، پهٔ کوم کوم انداز به یې د مدینے منورې سره د محبّت اظهار کولو! راځئ چې د یو څو واقعاتو اوریدو سعادت حاصل کړو:

## د مُحدِّثِ اعظم پاکستان د مدينے منورې سره محبّت

حُضُور مُحَدِّثِ اعظم پاکستان مولانا سردار احمد صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د چا مزار مبارک چې د پاکستان د پنجاب په فيصل آباد ښار کښې دے، هغوئي ډير لوئي عاشقِ رسول وو، چې عاشقِ رسول وو نو د مدينے منورې سره يې هم ډير زيات محبّت کولو- د هغوئي په محفل کښې به اکثر د محبوب د ښار ذِکر کيدلو- که څوک د مدينے زيارت کوونکے به د هغوئي په خدمت کښې حاضريدلو نو مولانا سردار احمد صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به د هغوئي نه د مدينے منورې د حالاتو پوښتنه کوله، د مدينے منورې د اوسيدونکو عاشقانِ رسول خيريت به يې معلومولو او که چا به څۀ تبرک وړاندې کولو نو ډير په خوشحالۍ به يې قبلولو- يو ځل يو حاجي صاحب د مدينے منورې کجورې وړاندې کړې، هُغه وخت د دورۀ حديثِ (يعني د عالِم کورس د آخري درجے سبق) جاري وو، د مدينے منورې کجورې يې حاضرو طالبِ علمانو له ورکړلې او يوه کجوره يې په خپلو غاښونو کښې اونيوله او اوئې فرمائيل: د مدينے منورې کجوره مې په خُله کښې کيښودې ده، تر څو پورې چې وِيلې کيږي او دننه ځي نو ايمان به تازه کيږي- (26)

کھجورِ مدینہ سے کیوں ہو نہ اُلفت
کہ ہے اس کو آقا کے کُوچے سے نسبت

## په مدينه منوَّره کښې يې خپل ويښته او نوکان دفن کړل

د حُضُور مُحَدِّثِ اعظم پاکستان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د محبّت يو انداز دا هم دے چې کله د هغوئي د مدينے منورې د حاضرۍ سعادت نصيب شو نو د هلته نه د واپس کيدو په

[26]...حیاتِ محدثِ اعظم پاکستان، صفحہ:155۔

وخت هغوئي خپل څۀ ويښته او نوکان پۀ مدينه منوَّره کښې دفن کړل او پۀ بارگاهِ رسالت کښې يـې عرض وکړو: يَار رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! پۀ مدينه منوَّره کښې مره کيدل خو زما پۀ اختيار کښې نه دي البته د خپل وجود څۀ حصې دفن کووم او څم، زمونږ د غريبانانو د پاره دا هم يو غنيمت دے۔ (27)

جان و دل چھوڑ کر یہ کہہ کے چلا ہوں اعظمؔ

آرہا ہوں مرا سامان مدینے میں رہے

## مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د مدينے منورې محبّت

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ کال 1390ھ کښې د حج او د مدينے منورې د زيارت سعادت حاصل کړو، پۀ دې باره کښې د مدينے منورې د سفر يوه ايمان تازه کوونکې واقعه بيانوي او فرمائي: زۀ پۀ مدينۀ منوَّره زَادَهَا اللّٰهُ شَرَفاً وّ تَعْظِيْماً کښې وخوئيدم او د ښي لاس د مړوند هډوکے مې مات شو، چې درد زيات شو نو ما هغه ښکل کړو او اومې وئيل: اے د مدينے درده ستا ځائے زما پۀ زړۀ کښې دے نو تۀ خو ما ته د يار د دروازے نه ميلاؤ شوے يـې۔

ترا درد میرا دَرماں تِرا غم مری خوشی ہے

مجھے درد دینے والے تری بندہ پروری ہے

درد خو هُغه وخت غائب شو خو لاس مې کار نه کولو، 17 ورځې پس مې پۀ مُستَشفٰی مَلِک يعنې پۀ شاهي هسپتال کښې ايکسرے وکړه نو هډوکے دوه ځائے مات وو پۀ کومو کښې چې لږه فاصله ده خو مونږ علاج ونکړو، بيا پۀ ورو ورو لاس کار هم شروع کړو، د مدينے منوَّرې د هُغه هسپتال ډاکټر محمد اسماعيل ووئيل چې دا خاص

27...حیاتِ محدِث اعظمِ پاکستان، صفحہ:155۔

کرم شوے دے چې دې لاس پهٔ طِبي لحاظ سره حرکت هم نشو کولے، هُغه ایکسرے زما سره ده، هډوکے تر اوسه پورې مات دے، پهٔ دې مات لاس باندې تفسیر لیکم، ما د دې خپل مات لاس علاج صرف دا وکړو چې پهٔ آستانهٔ عالیه کښې ودریدم او عرض مې وکړو چې حضورا! زما لاس مات شوے دے، اے د عبدُ الله بِن عَتِیک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پنډۍ وروستونکیه! اے د مُعَاذ بِن عَفرَاء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مات مَټ وروستونکیه (خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم !) زما مات لاس وروليءَ! (28)

چاند کو توڑ کے پھر جوڑنے والے آجا | ہم بھی ٹوٹی ہوئی تقدیر لئے پھرتے ہیں

## د مدینے منورې پهٔ سختۍ باندې د صبر کولو ثواب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د مفتي صاحب پهٔ دې واقعه کښې زمونږ د پاره هم سبق دے، چې مدینے منورې ته حاضري وي نو ظاهره ده ❀ هوا بدله شي ❀ موسم بدل شي ❀ بیا بعضې وخت پهٔ سفر وغیره باندې هم انسان ستړے شي ❀ هلته د رسیدو سره پهٔ رُوحاني لحاظ سره نهٔ البته پهٔ جسماني طور باندې د څهٔ تکلیفونو سره بعضې وخت انسان مخ کیږي ❀ کله تبه شي ❀ کله د سر درد ❀ کله ستړے والے ❀ کله څهٔ ازغے پهٔ ښپو کښې لاړ شي وغیره تکلیف کیدے شي، که چرې داسې وشي نو صبر کول پکار دي، دا د محبّت د ښار تکلیف دے او د محبوب د طرف نه میلاویدونکے زخم هم کل وي- د مدینے منورې د شهنشاه، د حبیبِ کردګار، د زړونو د قرار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: **زما کوم اُمَّتي چې د مدینے پهٔ تکلیف او سختۍ باندې صبر وکړي، زهٔ به د**

---

28… تفسیر نعیمی، پارہ:9، سورۃ الاعراف، زیرِ آیت:188، جلد:9، صفحہ:424۔

**قيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم-** (29)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: حق دا دے چې دا وعده د ټول اُمَّت د پاره ده چې په مدينه منوَّره کښې مړ کيدونکے د حضورِ انور (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د دې خصوصي شَفاعت حق دار دے- (30)

| | |
|---|---|
| خارِ صحرائے نبی پاؤں سے کیا کام تجھے | آمری جان مرے دل میں ہے رستہ تیرا |
| بھیک بے مانگے فقیروں کو جہاں ملتی ہے | دونوں عالم میں وہ دروازہ ہے کس کا تیرا (31) |

**وضاحت:** اے د مدينے منورې مبارک ازغيه! ته زما د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارک ښار حصه يې، ستا ځائے زمونږ په شان د خلقو په ښپو کښې نه بلکې په زړه کښې دے، په دوارو جهانونو کښې خو صرف د مدينے منورې دا شان دے چې دلته فقيرانو ته هم بغير د غوښتو عطا کولے شي-

## د مفتي نقي علي خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ذِکرِ خير

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه والدِ محترم مولانا مفتي نقي علي خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هم ډير لوئي عاشقِ رسول وو، **اَلۡحَمۡدُلِلّٰه!** عاشقِ مدينه هم وو، د ذِيقعده په 29 يا 30 تاريخ د هغوئي عرس وي، کوشش وکړئ چې په خپلو ❀ کورونو کښې ❀ دکانونو کښې ❀ دفترونو کښې د هغوئي د ايصالِ ثواب اهتمام وکړئ! اِنۡ شَآءَ الله! د ولئ کامِل فيضان

---

29... مسلم، کتاب الحج، باب الترغیب فی سکنی المدینہ...الخ، صفحہ:512، حدیث:1378۔

30... مراۃ المناجیح، جلد:4، صفحہ:210۔

31... ذوقِ نعت، صفحہ:25۔

به مو نصيب شي- راځئ چې د هغوئي د مدينے منورې د عشق د ذِکر سعادت حاصل کړو:

## د عاشقِ رسول د مدينے منورې سفر (حکايت)

د 1295 هجرى خبره ده، د شوّال مياشت وه، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والدِ محترم حضرت مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير زيات بيمار شو، د وجود ظاهري طاقت يې ډير کمزورے شو، هم پۀ دې حالت کښې يوه ورځ مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارام فرمائيلو چې ظاهري سترګې يې پټې شوې خو بخت يې رابيدار شو، د زړۀ سترګې يې غړيدلې وې، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم کرم ووفرمائيلو، خپل رښتوني عاشق ته يې پۀ خوب کښې تشريف راوړلو-

سَرِ بالیں، انہیں رَحمت کی ادا لائی ہے | حال بگڑا ہے تو بیمار کی بَن آئی ہے

سرکارِ نامدار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم خپل رښتوني عاشق ته حکم ووفرمائيلو چې مدينے ته راشه---! بس بيا څۀ وو، د مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سترګې وغړيدلې، اګر چې طبيعت يې ټيک نه وو، ظاهري جسماني طاقت يې ډير کمزورے وو خو مَدَني آقا، محبوبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم حکم فرمائيلے وو، مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فوراً د حج او د مدينے منورې د حاضرۍ پخه اراده ووفرمائيله، د مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کور والؤ وغيره ډير عرض وکړو چې جناب---!! طبيعت مو ټيک نه دے، کرځيدل درته ډير ګران هم دي، که راتلونکي کال هم تشريف يوسئ نو د سرکارِ عالي وقار، مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم پۀ حکم باندې به عمل وشي خو د مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشق کمال ته وګورئ! طبيعت يې ټيک نه دے، پۀ جسماني طور باندې هم ډير کمزورے دے او اوس خو پۀ هوائي جاز کښې سفر کيږي، د هندوستان نه پۀ يو څو ګينټو کښې مدينے منورې ته رسيدے شې، هغه وخت

به په سمندري جازونو کښې په سمندري لاره باندې سفر کيدلو، مدينے منورې ته په رسيدو کښې به ډيرې ورځې تيريدلې، د دې ټولو حالاتو باوجود رښتوني عاشقِ رسول، مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دوستانو ملګرو په عرض باندې په عشقِ رسول کښې بے اختياره ووفرمائيل: چې د مدينے منورې په اراده د دروازے نه قدم بهر کيږدم نو بيا که رُوح هم هغه وخت د تَن نه لاړ شي نو خير دے۔ (32)

شوق روکے نہ رُکے پاؤں اُٹھائے نہ اُٹھے | کیسی مشکل میں ہیں اللہ تمنّائی دوست (33)

وضاحت: يَا الله! د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې د حاضرۍ ارمان دے، شوق داسې دے چې زړه نا قلاره دے، حال دا دے چې قدم نشم اخستے، ګرځيدل ګران دي، اِلٰهى! څومره سخته ده، زما مدد وکړې۔ مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل شهزاده اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د کور يو څو نور کسان د ځان سره کړل او د حج د پاره روان شو، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د مکے مکرمې سرکار، د مدينے منورې سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړلو او خپل رښتوني عاشق، مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته يې په يو لوښي کښې دوائي عطا کړله، د هغې دوايۍ خوړلو په برکت په مرض کښې کمے راغلو او مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حج او زيارت ټول افعال د صحت مندو په شان ادا کړل، بيا مدينے منورې ته هم په ادب سره، خوندوره حاضري وشوه۔ (34)

میٹھا مدینہ دُور ہے، جانا ضرور ہے | جانا ہمیں ضرور ہے، جانا ضرور ہے

---

32... فضائلِ دُعا، صفحہ:40بتصرف۔

33... حدائقِ بخشش، صفحہ:63۔

34... فضائلِ دُعا، صفحہ:41بتصرف۔

| | |
|---|---|
| ہوتا ہے سخت امتحاں، الفت کی راہ میں | آتا مگر سُرور ہے، جانا ضرور ہے |
| عشاق کو تو ملتی ہے غم میں بھی راحت اور | آتا بڑا سُرور ہے، جانا ضرور ہے |
| سرکار کا مدینہ یقیناً بلاشُبہ | قلب و نظر کا نُور ہے، جانا ضرور ہے (35) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا وو د **مولانا نقي علي خان** رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د عشقِ رسول حالت---! چې هغوئي ته سرکارِ عالي وقار، د مدينے تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړلو او حکم يې ووفرمائيلو نو هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په هغې باندې دومره په سختئ سره عمل وکړو چې د ځان پروا يې هم ونکړه بلکې اوئې فرمائيل: چې د مدينے منورې په اراده باندې قدم د دروازے نه بهر کيږدم نو که بيا رُوح هم د تَن نه لاړ شي نو خير دے- يعني د خپل خوږ آقا و مولا، محبوبِ خُدا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حکم باندې د عمل کولو د پاره چې څۀ زما په اختيار کښې دي هغه به زۀ ضرور کووم، بيا د الله پاک رحمت او د مَدَني سرکار، د انبياؤ د تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کَرم ډير زيات دے، که الله پاک او د هغۀ خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وغواړي نو مدينے منورې ته به مې ورسوي، کنې نو زما د اړخ نه خو به په حکم باندې عمل وشي-

| | |
|---|---|
| آئے دو یا ڈبو دو، اب تو تمہاری جانب | کشتی تمہیں پہ چھوڑی، لنگر اُٹھا دیئے ہیں (36) |

الله پاک دې مونږ ته هم ❀ د مدينے عشق ❀ د مدينے ياد ❀ د مدينے غم ❀ د مدينے ذِکر ❀ د مدينے فِکر ❀ او بيا بيا، په زرګونو ځل د مدينے منورې د با ادبه حاضرئ

---

35...وسائلِ بخشش، صفحہ:487،486 ملتقطاً۔

36...حدائقِ بخشش، صفحہ:102۔

توفيق راعطا کړي۔

مدینہ، مدینہ، ہمارا مدینہ
ہمیں جان ودِل سے ہے پیارا مدینہ

سہانا سہانا دِل آرا مدینہ
دِوَانوں کی آنکھوں کا تارا مدینہ

یہ ہر عاشقِ مصطفےٰ کہہ رہا ہے
ہمیں تو ہے جنّت سے پیارا مدینہ

یہ رنگیں فضائیں، یہ مہکی ہوائیں
مُعَطَّر، مُعَنْبَر ہے سارا مدینہ

مدینے کے جلووں کے قربان جاؤں
خدا نے ہے کیسا سنوارا مدینہ

خُدا گر قیامت میں فرمائے مانگو
پُکاریں گے دیوانے پیارا مدینہ (37)

اٰمِیْنْ بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د کونترو د محبوب د آستانې سره محبّت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مدینه منوَّره د محبّت ښار دے، دا صرف انسانان نه دي چې د مدینے منورې سره محبّت کوي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! ځناور هم د مدینے منورې سره بے کچه محبّت کوي۔ سیدي قُطبِ مدینه مولانا ضیاء الدین مَدَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه خوک چې د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دامت برکاتهم العالیه پیر صاحب دے، هغوئي به د مدینے منورې سره ډیر محبّت کولو، هغوئي تر ډیرې مودې پورې په مدینه منوَّره کښې حاضر وو او نن هم اَلْحَمْدُلِلّٰه! په مدینه منوَّره کښې په بقیع شریف کښې ارام فرمائي، سیدي قطبِ مدینه رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: یو ځل انتظامیې د مسجدِ نبوي مبارک د حرم مبارک صفا سوترا ساتلو د پاره فیصله وکړه چې په حرم شریف کښې دې د کونترو د پاره دانې نه اچولے کیږي، داسې به کونترې چرته بل خوا لاړې شي، په دې حکم

37...وسائلِ بخشش، صفحہ:355۔

باندې عمل وکړے شو او تر ډېرو ورځو پورې کونټرو ته داني نه اچولے کيدې خو د کونټرو د ګنبدِ خضراء سره د محبّت دا حالت وو چې د لوږې نه مرې کيدلې خو د محبوب آستانې پريښودو ته تيارې نه وې، د مدينے والؤ دا د عشق نه ډک منظر پۀ خپلو سترګو وليدو او انتظاميې والؤ ته يې بيا بيا خواست وکړو نو بيا هلته کونټرو ته د دانو اچولو سلسله شروع شوه- (38)

عالمِ وَجد میں رَقصاں میرا پَر پَر ہوتا | کاش! میں گنبدِ خضراء کا کبوتر ہوتا

الله پاک دې زمونږه هم د مدينے منورې سره ښه ډېر محبّت نصيب کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مدينے غم او د مدينے درد به څنګ نصيب کيږي؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ❀ د مدينے ياد ❀ د مدينے فرياد ❀ د مدينے غم ❀ د مدينے عشق به څنګ حاصليږي؟ راځۍ چې د عاشقِ مدينه، يعني د شيخِ طريقت، مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يو څو نصيحتونه واورو: هغوئي فرمائي: د غمِ مدينه موندلو د پاره دې ❀ د سرکارِ عالي وقار، د مدينے د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغوئي سره د نسبت لرونکي هر څيز سره دې رښتونے پوخ محبّت وکړے شي ❀ د هغوئي پۀ مبارکو سُنَّتو باندې دې عمل وکړے شي ❀ د بزرګانِ دِين (يعني د الله پاک د نيکانو بندګانو) د حَرَمينِ طيبين د اَدَب او اِحترام او تعظيم او توقير واقعات دې ولوستلے شي-

❀ دې د پاره د مکتبة المدينه کتاب **د عاشقانِ رَسُول 130 حکايتونه** لوستل فائده مند دي- الله پاک که نصيب کړي نو د دې کتاب د لوستلو سره د مکے مکرمې، د مدينے

---

38 ...عاشقانِ رسول کی 130 حِکایات، صفحہ: 184۔

منورېٖ او د حج وغيره محبّت پۀ زړۀ کښې پيدا کيدے شي ❀ دغه شان دې د اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د نعتونو ديوان **حدائقِ بخشش** ولوستے شي، پۀ اُردو نۀ پوهيدونکے که پۀ **حدائقِ بخشش** ځان پوهه کړي او پۀ يادو يـې ياد کړي نو ډېر لوئي عاشق رسول به جوړ شي ❀ رښتونې خبره دا ده چې د **عشقِ رَسُول** د حاصلولو د پاره ماحول او صحبت ډېر د کار خيز دے- د صحبت پۀ ذريعه جَذبه زياتيږي- لکه چې څوک د حج يا د مدينے منورېٖ د حاضرئ د پاره لاړ او پۀ دې سفر کښې يـې د چا **عاشقِ مدينه** صحبت نصيب نۀ شو نو د هغۀ به ذوق نۀ نصيب کيږي ځکه د حرمينِ طيبين سفر د ذوق او عِلم والؤ (د چا عاشقِ رسول مفتي صاحب) سره کول پکار دي ❀ پۀ خپل ملک کښې هم د عاشقانِ رسول پۀ صحبت کښې ډير وخت تيرول پکار دي ❀ **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډک اِجتماعات او پۀ مَدَني مذاکرو کښې د شرکت کولو سره د مدينے منورېٖ د محبّت خوند نصيب کيږي- کاش چې زمونږ د ټولو ❀ د مدينے عشق ❀ د مدينے غم ❀ د مدينے درد نصيب شي، زړۀ د مدينے منورېٖ پۀ يادونو کښې ورک وي، پۀ شونډو باندې هر وخت هم بس مدينه، مدينه، مدينه جاري وي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيک اَعمَال

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ زړۀ کښې د مدينے منورېٖ د عشق زياتولو، د مدينے منورېٖ ياد، د مدينے منورېٖ د ذِکر کولو، د ګناهونو او فضولياتو نه د بچ کيدو، د ښه، بامقصده، د سُنّتو ډک او د نيکو والا ژوند تيرولو د پاره د عاشقان رسول د دينې تحريک دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ او پۀ 12 ديني کارونو کښې هم ښه ډېره برخه واخلئ! اِنۡ شَآءَ الله! د دنيا او آخرت بے شميره خيرونه به درنصيب شي- پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار روزانه د نيک اعمال رسالې جائزه اخستل هم

دي۔

❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: عقل مند هغهٔ دے چې خپله محاسبه او د مرګ نه وروستو ژوند د پاره عمل وکړي [39] ❁ د ځان د اصلاح کولو او د شيطان نه د بچ کيدو بهترينه طريقه هم دا ده چې مونږ د خپلو عادتونو، خپل کردار او د خپلو اعمالو جائزه اخلو۔ پهٔ اوسني وخت کښې اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د خپل ځان د جائزې اخستو اسانه طريقه ښودلې ده: **رساله نيک اعمال** ❁ د زيات عمر اسلامي ورونړو د پاره پهٔ **نيک اعمال رساله** کښې 72 سوالونه او جوابونه ليکلے شوي دي ❁ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي ❁ هره ورځ د سوال لوستلو سره خپله جائزه اخستل دي او خانے ډکول دي ❁ د ښه اسلامي ژوند تيرولو بهترينه نسخه ده ❁ د دې پهٔ ذريعه پته نه لګي چې د خومره خلقو اصلاح شوې ده۔

**تاسو هم دا رساله واخلئ!** د نيک اعمال مطابق روزانه خپله جائزه اخلئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ! ډيره فائده به در ورسي ❁ اخلاق به مو ښه کيږي ❁ کردار به مو ښه شي ❁ عادتونه به مو ښه شي ❁ پهٔ نيکو باندې به مو استقامت نصيب شي ❁ د ګناهونو نه به مو نفرت شي ❁ زړهٔ به مو روښانه شي ❁ د اللّٰه محبّت به مو نصيب شي ❁ عشق رسول به مو زيات شي ❁ روحانيت به درته ميلاو شي او ❁ د آخرت فکر به مو نصيب شي۔

## د نيک اعمال رسالې برکتونه

د نيو کراچۍ د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې زمونږ د علاقې د جومات امام صاحب څوک چې د دعوتِ اِسلامي سره تعلق لري، هغهٔ انفرادي کوشش وکړو او زما مشر ورور له يـې نيک اعمال رساله پهٔ تحفه کښې ورکړه۔ هغهٔ کور ته راوړه او اوئې

---

39... ترمذی، ابواب صفۃ القیامۃ، صفحہ: 583، حدیث: 2459۔

لوستله نو حيران شو چې په دومره مختصره رساله کښې يو مسلمان ته د اِسلامي ژوند تيرولو څومره بهترينه فارمولا ورکړے شوې ده! د نيک اعمال رسالې ميلاويدو په برکت اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغهٔ د نـمونځ جذبه نصيب شوه او د جَمعې سره د نـمونځ کولو د پاره جومات ته حاضر شو او اوس پينځه وخته نـمونځ ګزاره جوړ شوے دے، ګيره مبارکه يـې هم پريښودې ده او په پابندۍ سره د نيک اعمال رسالې نه جائزه اخلي۔

نیک اعمال کے عامل پہ ہر دم ہر گھڑی | یاالٰہی! خوب برسا رحمتوں کی تو جھڑی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده *(Madani Qaida)* موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مَدَني قاعِده ***(Madani Qaida)*** دے۔ په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو ***(Audio)*** شامله کړے شوې ده يعني په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک ***(Click)*** کوئ، په آډيو ***(Audio)*** کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن په مرستې سره په اسانۍ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق ***(Practice)*** کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي۔ دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# يو څو ضروري اِعلانات

❀ د هر خالي پهٔ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چينل لائيو **هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، پهٔ کومه کښې چې به **شیخِ طريقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❀ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پهٔ راتلونڪې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د دُنيا مُحبَّت** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ❀ د قربانۍ کوونڪو د پاره اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يوه ډيره ښکلې رساله پهٔ نوم د **اَبلق گھوڑے سوار** ليکلې ده- پهٔ دې رساله کښې هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د قربانۍ فضائل او مسائل ډيرې پهٔ اسان انداز کښې بيان کړې دي- دا رساله د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه **پهٔ غټ سائز کښې پهٔ 30 روپۍ** او **پهٔ وړوکي سائز کښې پهٔ 15 روپۍ** پهٔ بيعه اخستے شئ- هم نن دا کتاب واخلئ! پخپله يې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي

دي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدۡ اَحَبَّنِی وَمَنۡ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیۡ فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي۔ [40]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د عمامې شريف سُنَّت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه فرامين: (1): د عِمامې [يعني پټکي] سره نـمونځ د لس زره نيکو برابر دے. [41] (2): عِمامه تړئ! ستاسو د برداشت کولو طاقت به زياتيږي۔ [42]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ❀ عمامه په ولاړه تړئ او پاجامه په ناسته اغوندئ ❀ چا چې د دې اُلټا عمل وکړو (يعني عمامه يـې پهٔ ناسته وتړله او پاجامه يـې پهٔ ولاړه واغوستله) هغهٔ به پهٔ داسې مرض کښې اخته شي چې دوائي به يـې نه وي (يعني طبيبانو ته به يـې د دوايی علم نه وي) ❀ د عمامې تړلو نه مخکښې ښه ښه نيتونه وکړئ که يو هم صحيح نيت نه وو نو ثواب به نه ميلاويږي ❀ مناسب دا دي چې د عمامې پيچ [يعني وَل] د سر ښې طرف ته لاړ شي ❀ د الله پاك د آخري رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې عمامې شمله به عام طور د [د مبارکې ملا] په شا وه، کله کله به ښي طرف ته، کله به د دواړو اوګو تر مينځه دوه شملے وے ❀ کيڼ [يعني ګڅ] طرف ته شمله زوړندول خِلافِ سُنَّت دي ❀ د عمامے د شملے مقدار کم نه کم خلور ګوتې او د زياتو نه

---

40 ...تاریخ دمشق،جلد:9،صفحہ:343۔

41 ...مسند الفردوس،جلد:2،صفحہ:406،حدیث:3805۔

42 ...مستدرک،کتاب اللباس،جلد:5،صفحہ:272،حدیث:7488۔

زيات [د ملا د نيمي پورې تقريباً] يو لاس (د لاس د مينځنۍ ګوتې د سر نه واخله تر څنګل پورې ناپ ته يو لاس وائي)، ❀ عمامه مخ پهٔ قبله پهٔ ولاړه ولاړه تړئ ❀ په مرأت شريف کښې دي: عمامه شريف پهٔ ولاړه ولاړه تړل سُنَّت دي، پهٔ جومات کښې يـې تړئ يا چرته بل ځائے او❀ پهٔ عمامه کښې سُنَّت دا دي چې د دوه نيم ګزه نه کمه نه وي، او نه د شپږو ګزو نه زياته وي او د دې بناوټ [يعني شکل] ګنبد نما [يعني د ګنبد پهٔ شان] وي. (43)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ!

د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

قرض ہو گا ادا آکے مانگو دعا | پاؤ گے بر کتیں قافلے میں چلو
قَرض کا بار ہو، بے کسی یار ہو | چاہو گر راحتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

---

43...550 سنتیں اور آداب، صفحہ:54-56 ملتقطاً۔

بُزرګانو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره ڪم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبُر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبُر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[44] راځئ چې مونږه هم په شريڪه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريڪه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[45] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريڪه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

---

44... افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

45... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرگانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[46] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[47] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[48] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

---

46... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

47... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

48... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث:۳۰

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡھُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[49] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[50] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْكَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

49...مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاۃ...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

50...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵